**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۱۰** (از ۱۳ الی ۲۰ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**آیا 'کابل پروسه' به سولې ته لاره پرانيزي؟**

د ملي یووالي حکومت د سولې تګلارې ارزونه ........................................ ۴

د کابل پروسې اصلي موخې ........................................ ۴

آیا د سولې نوی بهیر پیل شو؟ ........................................ ٦

**تنش‌های اخیر سیاسی و امنیتی؛ نگرانی‌ها و پیامدها**

ماهیت حوادث اخیر امنیتی در کابل ........................................ ۹

گسترش بحران سیاسی ........................................ ۱۰

سناریوی آینده و خواست‌های معترضان ........................................ ۱۲

## مقدمه

پلازمېنه کابل له څو پرله‌پسي خونړیو پېښو وروسته، تېره سه‌شنبه (د جوزا ۱٦مه) داسې مهال د «کابل پروسې» تر نامه لاندې یوه نړیوال کنفرانس کوربه و، چې له سیاسي اړخه هم د ارگ او جمعیت اسلامي ترمنځ سختې لانجې روانې وې او له کبله یې د بهرنیو چارو وزیر رباني په غونډه کې گډون ونه کړ.

دغه کنفرانس ته، چې موخه یې د سولې او امنیت ټینگښت ښودل شوې او د ۲۷ هېوادونو او نړیوالو سازمانو استازو پکې گډون کړی و، ولسمشر غني تفصیلي وینا وکړه او پر طالبانو یې له خپل لوري د سولې غږ وروستی وباله. ولسمشر غني په دغه کنفرانس کې له پاکستان سره پر اړیکو هم، چې د سولې په بهیر کې د نه همکارۍ له کبله خرابې شوې دي، خبرې وکړې. خو پوښتنه دا ده چې دغه کنفرانس به د سولې بهیر په بریا کې څومره اغېزناک ثابت شي؟ په اړه یې د تحلیل په لومړۍ برخه کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د ځانگې شننه لولئ.

د تحلیل دویمه برخه مو د هېواد روان سیاسي او امنیتي ترینگلي وضعیت ته ځانگړې کړې ده. په کابل ښار کې د تېرې اوونۍ له خونړۍ چاودنې وروسته دولت ضد لاریونونه پیل شول، چې وروسته په تاوتریخوالي بدل شول او د مشرانو جرگې د مرستیال محمد علم ایزدیار د زوی په گډون یو شمېر کسان پکې ووژل شول. د سالم ایزدیار د جنازې په مراسمو کې دریو نورو چاودنو د جمعیت اسلامي او ارگ ترمنځ اختلافات نور هم ژور کړل او له ارگ څخه یې یو شمېر غوښتنې وکړې. دا اختلافات لاهم دوام لري؛ خو دا چې د وروستیو پېښو څرنگوالی څه و او وضعیت په کوم لوري روان دی؟ د تحلیل په دویمه برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

# آیا 'کابل پروسه' به سولې ته لاره پرانیزي؟




تېره اوونۍ له خونړیو امنیتي پېښو او ژورو سیاسي او داخلي اختلافاتو سره سره، په پلازمینه کابل کې د "کابل پروسې" تر نامه لاندې د سولې او امنیت په نوم نړیوال کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې د پاکستان، ایران، امریکا او برېتانیا په ګډون د ۲۳ هېوادونو او څو نړیوالو سازمانونو استازو ګډون وکړ.

د افغان حکومت په نوښت او مشرۍ د دغې پیل شوې پروسې مدیریت او د پرېکړو عملي کول به له افغان حکومت سره وي، کوم څه چې دا پروسه له پخوانیو دا ډول پروسو بېلوي. افغان ولسمشر اشرف غني دغه کنفرانس ته د خپلې وینا پرمهال وویل: «موږ نن دلته راټول شوي یو، څو د ترهګرۍ او وحشت پرضد یو بل ته لاسونه ورکړو او معلومه کړو چې د سولې مینه‌وال یو، د سولې د راوستلو ظرفیت لرو او د سولې په اړه ریښتیني یو... که چېرې افغان حکومت او طالبان د منلو وړ د سولې لار-نقشې د جوړولو لپاره هوکړه وکړي، نو افغان حکومت چمتو دی، چې طالبانو ته اجازه ورکړي، ترڅو د خپلې نمایندګۍ یو دفتر خلاص کړي.»[1]

دا چې د کابل پروسې اصلي موخه څه وه؟ د سولې بهیر په بیا پیل کې رول څه دی؟ آیا له دغې پروسې سره د حکومت د سولې تګلاره د بدلېدو په حال کې ده؟ او د کابل پروسې له کنفرانس څخه وړاندې د ملي یووالي حکومت د سولې د تګلارې ارزونه څه ده؟ هغه پوښتنې دي چې د څوابولو له لارې یې پر موضوع شننه کوو.

---

[1] President office, >>President Ghani's Remarks At The Kabul Process Conference<<, June 06, 2017, see it online: http://president.gov.af/en/SOKP

## د ملي یووالي حکومت د سولې تګلارې ارزونه

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې، د افغانستان د جګړې ختمول، د امنیتي ځواکونو پیاوړي کول او د سولې پروسه د هېواد د بهرني سیاست مهم عنصرونه وو. د وروستي هغه په موخه افغان ولسمشر د خپلو بهرنیو سفرونو لړۍ له چین، سعودي او پاکستان څخه پیل کړه او د سولې پروسه کې یې د اسلاماباد د پاملرنې زیاتولو په موخه دوی ته ګڼ امتیازات ورکړل. له همدې امله هم د سولې په تړاو د کابل ډېره تکیه پر پاکستان وه.

د افغانستان د سولې په تړاو له پاکستان او چین سره یوځای درېاړخیزې هڅې هم پیل شوې، چې د ارومچي یوه ناسته یې ښکارندویي کوي. دا هڅه هم وشوه چې په هغو درېاړخیزو ناستو کې د طالبانو په ګډون سره خبرې اترې څلوراړخیزې کړي؛ ځکه د ارومچي ناستې تر ډېره د افغان طالبانو د لویې هستۍ استازیتوب نه شو کولای.

د ملي یووالي حکومت په دغه ټول بهیر کې له افغان طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په برخه کې یوازې د مري د خبرو اترو بریا درلوده؛ خو هغه پروسه هم د ملا محمد عمر د مړینې له افشا کېدو سره تم شوه. وروسته د پاکستان، چین، افغانستان او امریکا ترمنځ د افغان سولې په تړاو څلور اړخیزې خبرې اترې هم پیل شوې؛ خو هغې پروسې هم په عملي ډګر کې بریالیتوب نه درلود او طالبانو پکې له ګډون څخه انکار وکړ چې له کبله یې مخامخ خبرو اترو ته لاره خلاصه نه شوه. د هغې پروسې د ناکامۍ یو عمده لامل، افغان طالبانو ته په سمه توګه د استازیتوب ورکولو پرځای، دوی ته د پاکستان له لارې بلنه ولېږل وو او دا چې که چېرې دوی خبرو اترو ته حاضر نه شي، نو د دوی پرضد به ګامونه اخیستل کېږي؛ که څه هم پاکستان د سولې په څلور اړخیزه پروسه کې دا خبرې ومنلې او د داسې کولو ژمنې یې هم وکړې؛ خو وروسته یې بیا هېڅ ونه کړل. همدا لامل و، چې د کابل-اسلاماباد ترمنځ دوه‌اړخیزې اړیکې هم د بل هر وخت په پرتله د خرابېدو په لور ولاړې.

## د کابل پروسې اصلي موخې

دا چې د ملي یووالي حکومت د سولې او امنیت په تړاو د کابل پروسې اصلي موخې څه وې، په لاندې برخو کې ورته اشاره کوو:

- **د افغانانو په مشرۍ او ابتکار؛** که څه هم د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وړاندې او وروسته هم د افغانستان د سولې او امنیت په تړاو ډېر کنفرانسونه وشول؛ خو د کابل پروسې کنفرانس ځانګړتیا په دې

کې وه، چې دا د افغانانو په مشرۍ، ابتکار او مدیریت سره پیل شو او له همدې امله یې له نورو سره توپیر درلود.

- **طالبانو ته د خبرو اترو «وروستی» وړاندیز؛** افغان ولسمشر په نوموړي کنفرانس کې لومړی د سولې په تړاو د حکومت ریښتینولي او صداقت ته اشاره وکړه او بیا یې وویل: «زموږ هدف سوله ده نه بریا، خو سوله تر هغو نشي راتللی چې طالبان ورته چمتو نشي. که چېرې افغان طالبان او افغان حکومت د سولې د نقشې په لارې هوکړه وکړي، نو افغان حکومت چمتو دی، چې طالبانو ته اجازه ورکړي ترڅو خپله یوه رسمي نماینده‌ګي پرانېزي. موږ د سولې لپاره یوه موقع ورکوو، خو دا هم باید روښانه وي چې دا موقع به تر ابده پرانیستې نه وي.»
- **د نورو سیمه‌ییزو پروسو بندول؛** د کابل پروسې لومړی کنفرانس د مسکو له دريیږخیزې پروسې پنځه میاشتې وروسته په کابل کې جوړ شو. د افغانستان د سولې په تړاو د مسکو پروسه د روسیې، چین او پاکستان ترمنځ وروسته له هغه پیل شوه، چې کله په سیمه کې یو شمېر جیو-پولیټیک بدلونونه رامنځته شول. خو افغان حکومت د مسکو پر پروسې ډېرې نیوکې وکړې؛ ځکه دا پروسه د افغانستان د استازي له ګډون پرته د افغانستان په تړاو وه. افغان ولسمشر هم، د کابل پروسې کنفرانس ته د خپلو خبرو پرمهال همدې ټکي ته اشاره وکړه او ویې ویل: «د سولې اړوند بحث ډېر پاشلی دی. ګڼ شمېر لوبغاړي پر ګڼ شمېر لارو روان دي. ډېر لږ وضاحت شته چې دوی څوک دي او د څه شي استازیتوب کوي؟ دا د سوءتفاهم نسخه ده. هغه څه چې موږ اوس تر هر څه ډېره اړتیا ورته لرو، تمرکز دی...خو په مقابل کې یې غواړو چې تاسو هم د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې د یوې منسجمې پروسې تمامیت ته درناوی وکړئ او خپلې جلا لارې خلاصې نه کړئ. جلاجلا چاینلونه ګټور نه تماميږي، زموږ هڅې هغه وخت نتیجه ورکوي چې په ګډه کار وکړو.»
- **پاکستان سره د اړیکو بیا پیلول؛** له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې ترټولو خراب وضعیت ته رسېدلې او افغان حکومت د افغانستان د سولې په برخه کې پر پاکستان ډېر بدګومانه شوی دی. له همدې کبله یې په هند کې د اسیا زړه کنفرانس کې د پاکستان ۵۰۰ میلیون ډالره مرسته رد کړه؛ خو د کابل پروسې پرمهال افغان ولسمشر وویل، موږ ته تر ټولو مهم لومړیتوب له پاکستان سره د مذاکراتو د یوې موثرې لارې پیدا کول دي. که څه هم موږ پاکستان ته د ملګرتیا لاس ورکړ، خو رد شو. دوه‌اړخیز، دريیږخیز، څلوراړخیز او ان ګڼ‌اړخیز مذاکرات مو هم وازمایل خو پایله یې ونه لرله. بیا هم موږ

غواړو د دې جوګه واوسو چې پر پاکستان باور وکړو. البته زموږ ننګونه دا ده، چې موږ نه شو معلومولای پاکستان څه غواړي؟ څه شی په کار دي، څو پاکستان په دې قانع شي، چې یو باثباته افغانستان له دوی او زموږ له سیمې سره مرسته وکړي؟
دغه راز افغان ولسمشر کنفرانس ته د وینا پرمهال له پاکستانه وغوښتل، چې خپلې غوښتنې مطرح کړي او د مذاکرې لپاره اجنډا او میکانیزم افغان حکومت ته وړاندې کړي، چې په مرسته یې سیمه سولې او ثبات ته ورسېږي.

- **په امنیتي برخه کې له کابل سره همکاري؛** له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان د قضیې په تړاو سیمه‌ییزه اجماع رامنځته شوې وه؛ خو له ۲۰۱۱ کال وروسته دغه سیمه‌ییزه اجماع اغېزمنه شوه او د ملي یووالي حکومت پرمهال بیا د بل هر وخت په پرتله له کړکېچونو او اختلافاتو سره مخ شوه. د افغانستان په تړاو د مسکو پروسه او د روسیې او یو شمېر نورو هېوادونو و لوړپوړو چارواکو څرګندونې یې ثبوت دی. له همدې کبله د کابل پروسې کنفرانس کې هم، اشرف غني د خپلې وینا یوه برخه په همدې ټکي راڅرخوله، چې موږ د سیمې د تروریزم او مخدره توکو پرضد د قاچاق په لومړۍ کرښه کې یو او د نورو هېوادونو جګړې هم مخته بیایو. له همدې امله یې له سیمه‌ییزو هېوادونو وغوښتل، چې له دوی سره په امنیتي برخه کې همکاري زیاته کړي؛ ځکه د ده په اند د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا به طالبان مات کړي. دغه راز د ګډ ګواښ «تروریزم» له منځه وړلو په موخه یې پر سیمه‌ییزو هېوادونو د امنیتي ایتلافونو په رامنځته کولو هم ټینګار وکړ.

## آیا د سولې نوی بهیر پیل شو؟

د اشرف غني له‌خوا د کابل پروسې په کنفرانس کې وړاندې شوې طرحې که څه هم د ده له تېرو تګلارو سره ډېر توپیر نه درلود؛ خو بیا یې هم یو څه نوي او مهم ټکي درلودل. په دغه کنفرانس کې اشرف غني د سولې په تړاو خپل صداقت وښود، له پاکستان او طالبانو سره یې د تېر په څېر بیا پر خبرو اترو ټینګار وکړ او دا چې څوک خبرو اترو ته نه حاضرېږي باید پرضد یې اقدامات وشي او د افغانستان د سولې او امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا په موخه سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کول، د تېرو تګلارو عنصرونه وو.

دا ځل یې په تګلاره کې نوي څېړونه د ګډ ګواښ (تروریزم) د لهمنځه وړلو په موخه امنیتي ایتلافونه رامنځته کول، د ملګرو ملتونو د تروریزم-ضد تګلارې عملي کول؛ او تر دغې پروسې لاندې اکاډمیک بحثونه پرمخ بېول وو.

که څه هم د کابل پروسه تر ډېره هغه وه، چې پورته بیان شوه؛ او افغان طالبانو د دې کرښو تر لیکلو پورې په دې تړاو کومه رسمي اعلامیه نه ده خپره کړې؛ خو بیا هم د طالبانو په رسمي وېبپاڼه کې په دې اړه یوه مقاله راغلې او هلته یې غبرګون منفي دی. په دغه لیکنه کې استدلال شوی، چې که څه هم غني د سولې غږ طالبانو ته کاوه؛ خو مخاطب یې پاکستان و. په وینا یې، دوی دې راوړاندې شي او د سولې لپاره دې افغان حکومت ته یو مېکانیزم ورکړي. دغه راز د اشرف غني پر لهجه او ځینو ټکو هم توندې نیوکې شوې او په پای کې یې دا پروسه د سولې راوستلو په موخه نه ده بللې[2].

[2] د طالبانو په رسمي وېبپاڼو «شهامت او الإمارة» کې خپره شوې لیکنه دلته وګورئ:
https://shahamat.info/?p=86735

## تنش‌های اخیر سیاسی و امنیتی؛ نگرانی‌ها و پیامدها




حوادث خونبار اخیر در کابل زمینه‌ساز تشدید تنش‌های سیاسی در کشور گردیده و در ادامۀ بی‌باوری‌های سیاسی، اختلافات جمعیت اسلامی با حکومت یک‌بار دیگر بالا گرفته است.

انفجار مرگباری هفتۀ گذشته (۱۰ جوزا ۱۳۹٦) در منطقۀ دیپلوماتیک شهر کابل بیش از ۹۰ تن کشته و حدود ۴٦۱ تن دیگر زخمی برجا گذاشت.[3] دو روز بعد، اختلافات سیاسی سابقه و همین انفجار باعث شد تظاهراتی با شعارهای ضد حکومت در کابل راه‌اندازی شود. این تظاهرات به خشونت کشیده شد و در نتیجه ۵ تن به شمول پسر محمد علم ایزدیار معاون نخست مجلس سنا کشته و بیش از ۱۱ تن دیگر نیز زخمی شدند. یک روز بعد، در مراسم جنازۀ پسر محمد علم ایزدیار سه انفجار پی‌هم رخ داد که در نتیجۀ آن نیز ۱۸ تن کشته و حدود ۱۰۰ تن دیگر زخمی شدند.

این حوادث پی در پی خونین باعث تشدید اختلاف جمعیت اسلامی با حکومت وحدت ملی گردید و صلاح الدین ربانی سرپرست وزارت خارجۀ افغانستان و رئیس حزب جمعیت روز دوشنبۀ گذشته طی کنفرانس خبری

[3] بی بی سی فارسی، «در انفجار مرگبار کابل ۹۰ نفر کشته شدند»، ۱۱ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش:
http://www.bbc.com/persian/afghanistan-40103092

خواهان برکناری حنیف اتمر مشاور امنیت ملی و رهبری تمام نهادهای امنیتی دولت افغانستان شد. اما حکومت با نشر اعلامیه‌ای این خواست جمعیت رار د کرد و این کشمکش‌های سیاسی تاکنون نیز جریان دارد.

در این تحلیل چگونگی حوادث و حملات امنیتی اخیر، افزایش تنش‌های سیاسی و خواست‌های معترضان از حکومت، مورد بررسی قرار گرفته است.

## ماهیت حوادث اخیر امنیتی در کابل

ماه‌های گذشته شاهد حملات و حوادثی بود که وضعیت امنیتی کشور را بیش از پیش پیچیده‌تر ساخته است. از جملهٔ این حوادث می‌توان به گونهٔ مثال از حمله بر شفاخانهٔ چهارصد بستر سردار محمد داوود خان یاد کرد.

انفجار نیرومند اخیر در کابل که ظاهرا گفته می‌شود با استفاده از یک موتر تانکر صورت گرفته است، به حدی قوی بود که باعث حفره‌ای بزرگ در زمین شد و در کنار تلفات سنگین جانی، ملیون‌ها دالر خسارات مالی را نیز بر جا گذاشت.[4] این حادثه واکنش‌ها و نکوهش‌های گستردهٔ داخلی و بین‌المللی را در پی داشت، ولی مسؤولیت آنرا هیچ گروهی به عهده نگرفت. طالبان در واکنش به این حمله با صدور اعلامیه‌ای اعلام کرد که این گروه انجام هر نوع حمله و انفجاری که به غیرنظامیان آسیب می‌رساند، نکوهش می‌کند[5].

ریاست امنیت ملی افغانستان اما اعلام کرد که این انفجار توسط گروه حقانی به کمک و هدایت ادارهٔ استخبارات پاکستان یا «آی اس آی» پلان شده بود.[6] در کنار این رئیس‌جمهور غنی نیز در واکنش به این حمله، حکم اعدام ۱۱ زندانی را که شامل افراد شبکهٔ حقانی و طالبان بود، صادر کرد.[7] طالبان اما پس از امضای این حکم در کنار هشدار نتایج ناگوار، ده‌ها زندانی که شامل پولیس و اردوی ملی بودند از زندان‌های خود در ولایات جنوبی آزاد کردند.[8]

---

[4] رادیو آزادی، «خسارات مالی حملهٔ خونین روز چهارشنبه در منطقه وزیر اکبر خان شهر کابل»، ۱۱ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: https://da.azadiradio.com/a/28522848.html

[5] بی بی سی فارسی، «واکنش‌های داخلی و خارجی به حمله خونین کابل» ۱۰ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://www.bbc.com/persian/afghanistan-40105625

[6] رادیو آزادی، «ریاست امنیت ملی: در عقب حمله موتربم کابل شبکه حقانی و ISI قرار دارند»، ۱۰ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: https://da.azadiradio.com/a/28519900.html

[7] خبرگزاری آوا، «گزارش امضای حکم اعدام ۱۱ عضو برجسته شبکه حقانی» ۱۱ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://avapress.com/vdcgyw9qwak9ty4.rpra.html

[8] برای معلومات بیشتر، گزارش روزنامهٔ ویسا، ۱۷ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش:

در کل، انفجاری با این قوت و بزرگی دلالت بر توانایی عاملین این حمله و ضعف نیروهای کشفی و امنیتی افغان می‌کند. نظر به مکان و زمان این حمله احساس می‌شود که هدف آن ایجاد ترس و نشان دادن وضعیت شکنندۀ امنیتی افغانستان به مردم بود. پس از وقوع این حمله سوالاتی زیادی در بارۀ چگونکی رسیدن این تانکر به قلب شهر کابل در اذهان مردم پیدا شد.

هرچند رئیس‌جمهور غنی به تمام ارگان‌های امنیتی دستور بررسی این رویداد و شریک نمودن نتایج آن با ملت را داد،[9] اما شماری از مردم دو روز بعد از انفجار تظاهراتی را در کابل راه‌اندازی نمودند که توسط برخی افراد و به خاطر اهداف سیاسی به خشونت کشیده شد. تظاهر کننده‌گان خواهان استعفای رئیس‌جمهور و رئیس اجرائیه بودند و تلاش داخل شدن به ارگ ریاست جمهوری را می‌کردند. زمانیکه آن‌ها می‌خواستند داخل ارگ شوند با نظامیان افغان درگیر شدند که باعث کشته شدن ۵ تن و زخمی شدن بیشتر از ۱۰ تن آن‌ها گردید.[10] روز بعد در مراسم جنازۀ یکی از معترضان، سه انفجار پی‌هم نیز باعث کشته شدن ۱۸ تن و زخمی شدن بیش از ۱۰۰ تن دیگر گردید،[11] مسوولیت این انفجارها را نیز کسی به عهده نگرفت و از آن ببعد شماری از تظاهرات کننده‌گان در شهر کابل خیمه زده و خواهان عملی شدن خواست‌های شان از حکومت اند.

## گسترش بحران سیاسی

همزمان با بحرانی شدن اوضاع امنیتی در کابل، اختلافات داخلی حکومت و اختلافات سیاسی جمعیت اسلامی با ارگ نیز گسترده‌تر شد. احمدضیاء مسعود عضو شورای رهبری جمعیت اسلامی و نمایندۀ پیشین رئیس‌جمهور در امور اصلاحات و حکومتداری خوب چندی قبل از سوی رئیس‌جمهور برکنار گردید و از آن ببعد

---

http://www.dailyweesa.com/?p=14486

[9] ارگ ریاست جمهوری، «اعلامیه مطبوعاتی در پیوند به تظاهرات امروز در کابل» ۱۲ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://president.gov.af/fa/press-release-kabul

[10] روزنامۀ هشت صبح، «پنچ کشته و بیش از ده زخمی در تظاهرات کابل» ۱۳ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://8am.af/1396/03/13/five-were-killed-and-more-than-ten-injured-in-protests-in-kabul

[11] طلوع نیوز، «سه انفجار در مراسم خاک سپاری یکی از معترضان جان ۱۸ تن را گرفت» ۱۳ جوزا ۱۳۹٦هـ ش: http://www.tolonews.com/fa/afghanistan/%D8%B3%D9%87-%D8%A7%D9%86%D9%81%D8%AC%D8%A7%D8%B1-%D8%AF%D8%B1-%D9%85%D8%B1%D8%A7%D8%B3%D9%85-%D8%AE%D8%A7%DA%A9-%D8%B3%D9%BE%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%DB%8C%DA%A9%DB%8C-%D8%A7%D8%B2-%D9%85%D8%B9%D8%AA%D8%B1%D8%B6%D8%A7%D9%86-%D8%AC%D8%A7%D9%86-%DB%B1%DB%B8-%D8%AA%D9%86-%D8%B1%D8%A7-%DA%AF%D8%B1%D9%81%D8%AA

هشدارهای بی‌ثباتی سیاسی، جنگ داخلی و شعارهای تغییر نظام را می‌داد. او در تظاهرات خشونت‌بار هفتۀ گذشته نیز ظاهر شد و تظاهرات را با شعارهای استعفای رئیس‌جمهور و رئیس اجرائیه به پیش می‌برد که به همین دلیل برخی تنظیم‌کننده‌گان این تظاهرات، او و عبداللطیف پدرام رئیس حزب کنگرۀ ملی را در کنار افراد دیگر متهم به استفادۀ سیاسی و به خشونت کشاندن این تظاهرات کردند.[12]

پس از وقوع انفجارها در مراسم جنازۀ پسر محمد علم ایزدیار که به شمول داکتر عبدالله رئیس اجرائیه بسیاری از اعضای بلندرتبۀ جمعیت اسلامی افغانستان در آنجا حضور داشتند، اختلافات میان حکومت و این حزب به اوج خود رسید. صلاح الدین ربانی، رئیس جمعیت اسلامی و سرپرست وزارت خارجۀ افغانستان در کنفرانس خبری اظهار داشت که وقوع این انفجارها نشان‌دهندۀ توطئه‌ای برای از بین بردن اعضای رهبری این حزب بوده و در این رابطه حکومت باید سران تمام نهادهای امنیتی و نیز حنیف اتمر مشاور امنیت ملی افغانستان را برکنار کند.[13]

اما حکومت در برابر این خواست جمعیت گفت: «سمت مشاوریت امنیت ملی، سمت اجرایی در سکتور امنیت نیست. مشاور امنیت ملی وظیفۀ خود را با کمال صداقت به میهن انجام داده و می‌دهد.»[14] با این هم دیده می‌شود که تنش‌ها میان ارگ و جمعیت اسلامی بر سر برکناری حنیف اتمر رو به افزایش است، چون از یک‌سو صلاح‌الدین ربانی سرپرست وزارت خارجۀ کشور بر بنیاد فیصلۀ شورای رهبری حزب‌اش در نشست "پروسۀ کابل" اشتراک نکرد و از سوی دیگر به تازه‌گی عطا محمد نور رئیس اجرائیه جمعیت و والی بلخ نیز هشدار داده است که بی‌تفاوت گذشتن ریاست جمهوری از خواسته‌های جمعیت اسلامی، تاوان بزرگی در پی خواهد داشت. نور همچنان گفته است: «ما به یاد داریم در سفرهایی که به خارج صورت می‌گیرد که در راس آن آقای اتمر است، قراردادهایی امضا می‌شود که شکل اجرایی را به خود می‌گیرد امضای پیمان امنیتی و امضای پیمان با برادر حکمتیار نشان دهندۀ آن است که این‌ها (اتمر) توانایی برنامه‌های اجرایی را دارند.»[15]

---

[12] رادیو آزادی، «روفی و سعیدی: پدرام و مسعود خواستند از تظاهرات منفعت سیاسی ببرند» ۱۳ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: https://da.azadiradio.com/a/28526194.html

[13] روزنامۀ اطلاعات روز، «حزب جمعیت خواستار برکناری حنیف اتمر و رهبران نهادهای امنیتی شد» ۱۵ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://www.etilaatroz.com/48468

[14] ارگ ریاست جمهوری، «اعلامیۀ مطبوعاتی» ۱۵ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://president.gov.af/fa/2017/06/05/-9

[15] خبرگزاری جمهور، «تاوان بی‌تفاوت گذشتن از خواسته‌های حزب جمعیت بسیار بزرگ خواهد بود» ١٦ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش: http://www.jomhornews.com/doc/news/fa/95206/

## سناریوی آینده و خواست‌های معترضان

در صدر خواست‌های جمعیت اسلامی و تحصن‌کننده‌گان در کابل، برکناری حنیف اتمر و سران نهادهای امنیتی قرار گرفته است. همانطوریکه ریاست جمهوی در اعلامیه‌های خویش اعلام کرد، به نظر می‌رسد برخی اصلاحات در نهادهای امنیتی وارد خواهد شد، اما به گونۀ مشخص ممکن حنیف اتمر از وظیفه‌اش برکنار نخواهد شد. به همین دلیل، نگرانی‌هایی وجود دارد که اصرار تحصن‌کننده‌گان ممکن به خشونت‌های بیشتر خواهد انجامید؛ ولی در عین حال احتمال نمی‌رود که به دلائل مختلف از جمله به دلیل حضور نیروهای خارجی در افغانستان، در حال حاضر جنگ‌های داخلی و بی‌ثباتی جدی امنیتی در کشور آغاز گردد.

با این هم، در کشمکش‌های اخیر سیاسی و تظاهرات کابل، تاکید بیشتر بر استعفای رئیس‌جمهور و رئیس اجرائیه و حتی منحل کردن حکومت فعلی و ایجاد ادارۀ موقت بوده است. به معنای اینکه سران حکومت وحدت باید کنار روند و تا برگزاری انتخابات، ادارۀ موقت روی‌کار آید.

در این زمینه چند نکته قابل ذکر است:

**نخست**؛ اگر فرض کنیم رئیس‌جمهور استعفاء دهد، مطابق قانون اساسی افغانستان تا برگزاری انتخابات و آمدن رئیس‌جمهور جدید تمام صلاحیت‌های وی به معاون نخست ریاست جمهوری باید سپرده شود. اگر رئیس‌جمهور غنی در حال حاضر استعفاء دهد و تمام صلاحیت‌های مربوط به او به جنرال دوستم معاون نخست وی سپرده شود، آیا ممکن است وضعیت بهتر شود و یا آیا تمام ملت افغانستان این تصمیم را قبول خواهد کرد؟

**دوم**؛ موضوع ایجاد ادارۀ موقت است. افرادی که تظاهرات کرده‌اند و خواهان منحل کردن نظام کنونی اند، بیشتر مربوط یک حزب و یا دو حزب اند. پس چگونه یک ادارۀ موقت را ایجاد خواهند کرد؟ چه کسی در راس این اداره قرار خواهد گرفت؟ و آیا ملت افغانستان آنرا قبول خواهد کرد؟

**سوم**؛ اگر قبول کنیم که ادارۀ موقت ایجاد شد و همه مردم آنرا قبول نیز کرد، پرسش اینجاست که این اداره تا چه زمانی دوام خواهد کرد؟ آیا در شرایطی فعلی امنیتی و اقتصادی، خواهد توانست انتخابات را برگزار کند، چون حکومت فعلی با تلاش‌های زیادی در طی بیش از دونیم سال نتوانست انتخابات پارلمانی را در کشور برگزار کند، پس چگونه ممکن است، ادارۀ موقت توان این کار را داشته باشد؟

**چهارم**؛ آیا ضمانتی وجود دارد که با ایجاد ادارهٔ موقت وضعیت فعلی بهتر شود. چون در حال حاضر وضعیت امنیتی در ولایات و حتی مرکز روز به روز وخیم‌تر شده و هر روز در کنار ده‌ها نیروی امنیتی، ده‌ها افراد ملکی در حمله‌ها و انفجارها کشته و زخمی می‌شوند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.